**United Nations Assistance Mission in Afghanistan**

Spokespersons Office
Kabul, Afghanistan

Tel: 0039 0831 24 6121 – 0093 (0) 20 297 6121
E-mail: spokesperson-unama@un.org
Website: www.unama-afg.org

## د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومی منشی د ځانګړی استازی ښاغلی کای آیده بیانیه
## د کندهار ولایت د پارلمان غړی حاجی حبیب الله د وژل کیدو په اړه

د خپګان او تالم ځای دی چی زه نن د کندهار ولایت د پارلمان د غړی حاجی حبیب الله د شهادت څخه خبرشوم. دا حمله د افغانستان د خلکو د ولسواکی په اراده حمله ده کله چی په ۱۳۸۴ (۲۰۰۵) کال کښی په میلیونو افغانانو د سولی ، ثبات او پرمختګ لپاره رای ورکړه.

حاجی حبیب الله په صداقت سره خپل هیواد ته د یو مجاهد، یو قومی مشر، اود پارلمان د یو غړی په توګه خدمت وکړ.

دا حمله هغه خطرونه راپه ګوته کوی چی د پارلمان زیارویستونکی غړی، چی د افغانستان د خلکو د نوی راتلونکی جوړولو لپاره نه ستړی کیدونکی کار کوی، ورسره مخ دی.
مونږ افغانی چارواکی هڅوو چی ددی حملی عاملین ژرتر ژره محاکمه کړی او په هغوی غړ کوو د پارلمان د غړو، چی د ټول افغانستان څخه د ټولنو نماینده ګی کوی، د ساتنی او خوندیتوب لپاره خپلی هلی ځلی زیاتی کړی.

په دی سخت وخت کښی مونږخپل ځان د حاجی حبیب الله د کورنی، ملګرو او د پارلمان د نورو غړو سره په غم کښی شریک ګڼو.

د۲۰۰۸ کال د جون د میاشتی ۵